# د افغانستان سره د آلمان همکاري
# مطبوعاتي خبر

## د آلمان د همکارۍ په ملاتړ په ټول هېواد کښې د ښوونکو لپاره د صلحې روزنې زدکړې نصاب معرفي شو

کابل، 7 کب 1393- دغه اونۍ په ټول افغانستان کښې د ښوونکو د روزنې په مرکزونو په رسمي توګه د صلحې د زدکړې نصاب په نوم ونومول شوه. له افغان دولت سره د آلمان په ملاتړ اوس مهال د ښوونکو د روزنې رياست د نوموړي نصاب ښوونه کوي، او په تېرو پنځو **۵** روځو کښې د افغانستان له ديرشو **۳۰** ولايتونو څخه **۱۲۰** ښوونکو په هغه ورکشاف کښې ګډون کړئ په کابل کښې د ښوونکو د په کاله کښې دايي شوي دي. دوی د ښوونکو د روزنو په مرکزونو کښې د نصاب ورزدکوي او همغږي لارې چارې زده کړې دي.

د ښوونکو د روزنې د زدکونکو لپاره د صحلې تر عنوان لاندې **۴۵**،۰۰۰ جلده کتابونو او ځينو نور موادو د چاپ په شمول چې په راتلونکي نوروز کښې به په هېواد کښې په ټولو مرکزونو کښې موجود وی،د روزنې او روزنځی لګښت هم د د آلمان د لمړنۍ او منځنۍ زدکړو د پروګرام له خوا ور کول شوي دي

د ټول هېواد په کچه د نصاب د ور پېژندنې لمړنۍ پړاو د بدخشان، بلخ، تخار، کندوز او سرپل ولايتونو د ښوونکو د روزنې په مرکزونو تر سره شول. د افغانستان د ښوونکو د روزنې لپاره د صلحې تر عنوان لاندې ښوونيز نصاب په **۲۰۱۳** زېږدیز کال کښې آلمان د دولت د همکارۍ او يو نسکو په ملاتړ د ښوونکو د روزنې رياست له لوري جوړ شوی وو.

په نوموړي روځې کښې له بدخشان ولايت څخه يوې تړې ګډونکې کونکې مېرمې ووېل "موږ تراوسه په خپله ټولنه کښې د تاو ترېخوالي شاهدان يوو دصلحې تر نامه لاندې د ښوونيز نصاب سره موږ کولای شو چې څنګه په ټولنه کښې د نګونو په وړاندې ودرېږو، کومې لارې چارې چې موږ اوس په کار اچولي دي د لاسته راوړنو په لوری کوچوني ګلمونه دي د بېلګې په توګه: ښوونکې کولای شي چې څنګه به په درسي خونو کښې ورځنۍ شخړې چې حل نشي کېدا ی شي په تاو ترېخوالی بدل شي وزغمي او په اړه يې کار وکړي موږ به په راتلونکې کښې د صلحې ارزښت د ښوونځيو دوري ښوونکو ته هم ورورو"

د ښوونيز نصاب په ورپېژندې سره به د صلحې تر نامه لاندې زدکړه د ښوونکو د روزنې په مرکزونو کښې يو اجباري درسي کتاب (مضون) شي. **۷۵**،۰۰۰ زدکونکي به د ښوونکو د روزنو په مرکزونو د د خپلې دوه کلنې زدکړېزې دورې په درشل کښې د صلح تر نامه لاندې زده کړه وکړي. دوی به د صلح د لوی غزونې په اړه پوره پوهه، مسلکی روزنه او هغه څه زده کړي چې د په ښوونځيو او ټولنو کښې د صلحې په را منځ ته کونه ګټور وی

د روان کال کښې راتلونکې پلان د ښوونکو د روزنې د مرکزونو لپاره په مزار شریف کښې د پنځو **۵** شمالي ولايتونو د روزونکو لپاره يو ځانګړی روزنيز پروګرام دی. د ښوونکوو پراختيايي مرکز به هم د له نويو کرسونو څخه د شته روزونکو او شاګردانو د برخه اخېستنې څخه د اطمنان په اړه يو روزنه واخلي .

د بنيادي زدکړې افغانستان لپاره د لمړنۍ زدکړو پروګرام ا (BEPA) پروګرام د **۲۰۰۵** کال راهيسې په افغانستان کې د المان او سويس د هېوادونو له خوا د افغان-المان د همکاری د پروګرام له لارې د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbHد اداري له پلوه د المان د اقتصادی همکارۍ او پراختيا وزارت (BMZ) او د سويس د پراختيايي همکاری د موسسې (SDC) په استازيتوب پرمخ بېول کيږي. د نوموړي پروګرام موخه داده چې په کابل کې د پوهنې د وزارت او په ولايتونو کې د هغه وزارت د رياستونو سره يو ځای په هېواد کې د ښوونکو د روزنې د پاره يو سالم بنسټ جوړ کړي .

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de